شریف الله دوست( سرواني) ۲۰۱۲/۰۲/۰۴

# دزنداورلرغونی جغرافیه

## لومړۍ برخه

زنداور (= زمینداور) دهلمند ولایت، چي اوس کجکي ولسوالۍ اړوند ده ډیره لرغونی سیمه ده چي تراسلام وړاندي حتی دغارمیشتو انسانانو دژوند نښي پکښي ترسترگو کیږي. داسیمه دنن په پرتله پخواډیره ویړه اوپراخه وه حتی تر واشیر(= وحش هیر؟) اونوزاد(نوزات، زوزاد، بوزاد) پوري یی سیمه په بر کي نیولی وه.
دزنداورڅلورخواوي: ختیځ ته کجکی، لویدیځ ته موسی کلا، سویل ته هلمند سیند اوسروان(= سروان کلا)، شمال ته یی د بغني(= بغنین) او باغران(= باغ حرم) سیمي شتون لري .
دزنداورمشهورکلي: د احمدشاه بابا په وخت کي چي کله نورمحمدخان میرافغان ورته راولیږه، د زنداور دری سوه شپیته کاریزونه ثبت سوي دي، مشهور کلي یی دا مهال دادي: ۱ ده بابا ۲ آزان دره ۳ کایزدوران ٤ لویه نیچه ٥ کوچنۍ نیچه ٦ الي اباد ۷ چهار باغ ۸ زوړښار (دامیرکروړجهان پهلوان ارگ) ۹ شاه کاریز اوداسي نور..

دزنداورنوم د تاریخ په حافظه کي:
زینداور، زنداور، زمینداور، له اره او اصله دلمرپرستني دمعبد نوم دی چي کرارکرا داتوله سیمه په دی نامه نومول سوی ده زنداور نوم له دوو برخوڅخه جوړ دی چي هرویي(لغات) یی بیله مانا لري.
۱ – د زون جز یی: داور= زنداور چي دزمینداوراصلي بڼه ده په تاریخ کي په نورونومونو هم یاد سوی چي وروسته به یی په تفصیل سره یادونه وسي، داځای زموږ دهیواد په لرغونی اوتاریخي جغرافیه، په ځانگړی توگه دهیتومنت(هلمند) په برخه کي ځانگړی سیاسي اوادبي، کرهنیز اوستراتیژیک ارزښت درلود چي دتاریخ په اوږدو کي د داوران شاهانوپه نوم واکمنۍ پکښي تیري سوي دي چي په راتلونکو کرښو کي به یی پر هر اړخ څه ناڅه رڼا ولویږي.
دزنداور نوم یوازي داسلامي دوری راوروسته مؤریخانو په اثارو کي تر سترگو کیږي، په هغو اثارو کي چي تر اسلام مخکي زموږ په هیواد کي لیکل سوي لکه اویستا اونورو کي ددی نامه څرک نه سته، په اسلامي تاریخ لیکواوجغرافیه لیکونکو کي په لومړي وار (احمدبن یحیی بلاذري په ۲۸۹هجري کي مړ) دعربي لښکرکښیو په برخه کي وایي: ((...وی برنواحي رخج وبلاد داور نیز چیره آمدومردم داور را درجبل الزور = زون حصار داد وبه انها صلح نمود...)) ۱
چینایي زیارت کوونکی (هیوان تسانگ ٦۳۰م) چي داوخت لا دعربو لښکري تر زنداور پوري نه وی رارسیدلي دا ځای د ((سوناگیر)) په نامه یاد کړی دی، خوپخپله په چینایي ژبه کي ددی نامه څرک نه ښکاري، په چینایي ژبه کي لمر ته (Tai yang= 太阳 تی یانگ) وایي اولمرته عقیده (xin tay yang = ( 信太阳 ) شین تی یانگ) بولي چینایان په نورو نومونوکي ډیر تغیرات راولي یوخودوی په خپله ژبه کي د(ر) ږغ نه لري ښایي پورته نوم (سوناگي یاسوناگیل ) یاد سوی وي اوورسته ژباړن په (ر) اړولی وي ځکه چینا یان عادتا (ر) په (ل، ی) اړوي. ۲ ددریمي میلادي پیړۍ په نیمایي کي دهیواد په لویدیزه برخه کي دساسانیانود نفوذ سره چي دکوشانیانودسقوط لپاره یوه پیلامه وه دلمرعبادت په خلکوکي رواج او رونق پیدا کړ.(سیستان قبل ازاسلام ۲۰٤مخ).
سیستان اوهلمند هم دزردښتي دین مهم مرکزبلل کیدی، چي دزردښتي دین تر څنگ د لمرلمانځنه هم کیده او له دی ځایه څخه کرارکراریعني دهلمند ،زنداور(زمینداور) اوزابلستان څخه دکابل تردری پوري اوهمداسي یی ترهند پوري ځان ورساوه (سیتان،همدا اثر۲۰٥مخ).
میتهرا(مهر= لمر)دطبعي عناصرو په جمله کي چي په اویستایي زمانه اودیانت کي یی لوی مقام درلود همدا میتهرا یا مهراولمرؤ. میتهرا اومهر چي دلمرپه مانادی یوناڅاپه داریانا په اویستایي دروکي نه دی مشهورسوي بلکه مخکي له دی زموږ د تاریخ په ویدي زمانه کي په همدی نوم (میترا) یوسرود لري اوله هغوارباب انواعو څخه یوه رب النوعه ده چي د (اناهیتا) په څیر دکلکولیتیک له زمانی څخه په اریانا او غربي اسیا کي مشهوره وه . دا نوم زموږ دهیواد دتاریخ په دوروکي یوازي د(ت) او(ته) دلهجی په اختلاف یادسوی دی(دافغانستان پخوانی تاریخ ۳۷٥مخ)

دزنداور(زمینداور) دنامه وجه:
بیاهم د(زن= زون)جز: دزنداور (زمینداور) نوم په زړو تاریخي اوجغرافیایي کتابوکي په سمه او غلطه توگه په دی بڼه او نومونو راغلی دی: داور، زمینداور، زنداور، ارض داور، زینداور، رنداور، بلاددداور، جبل الزور، بلدالداون، بلدي داور، جبلالزود، الزور، الرود، الزور، سوناگیر او... اول به د دی نامه پر لومړۍ برخه رڼا واچوو، زنداور له دوو کلمو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

ځخه جوړ دی چي اول جزيي لکه (زن= زون= سون= سونا) او لکه ځنګه چي داريانا هيواد دلمرپرستني ځای بلل سوی دی اووګړو به يی هم دلمر لمانځنه او مهرلمانځنه کول. مهر په اويستا کي(ميثره) په پهلوي کي (ميثر) د (مهر) ځخه سرچينه اخيستی ده او دهغه مترادف(هممانيز) لغات(ويي) په دري پاړسي کي خور + شيد، هور، په زند او اوستا کی، او سور په سانسګريټ کي يوه ريښه لري چي د همدی لمرپه مانا دی. دا نوم په ترکي= ويغوري ژبه کي هم دود دی لکه (مهرګول=مهرګله) چي ښځينه نوم دی چي دګل روزګردان اوافتاب پرست په مانا دی.۳ دسور کلمه دلمرپه مانا تراسلام مخکي پنځمو او شپږمو ميلادي پيړيو کي د اريانا(افغانستان) په مختلفو برخوکي په ځانګړی توګه سهيل لويديزه خوا کي رواج درلود ځکه دی سيمي ته لا هم بودايي دين لاره نه ده پيداکړی. دا نوم دلمرلمانځني لپاره په مختلفو بڼو سره راغلی دی لکه: سون، زون، ژون چي دزميداور نوم هم ددی ډول نومؤنو ځخه ګڼل کيداسي.٤ نوداسي فکرکيږي چي دانوم به له اره (اصله) ځخه (زون داور) وي او زون دلمر د الهی نوم ؤ، په فرنګي او انګريزي ژبه کي اوس هم لمر ته (sun = سون) وايي دانوم په يوناني ژبه کي هم په همدی مانا ( sun= سن) دی. ٥ دتاريخپوهانو په اند چي په زنداور کي د(ازان) دره، دموسی کلا او زنداور تر منځ (ده زور=ده زو) نوم هم دهمدی زنداور يا زميداور له نامه سره ورته بلل کيږي همداسي سروان(= سروان کلا) چي په اصل کي به ( زوروان= سوران=سروان) سوی وي. نو د (زون) د املآ په باره کي دا ځرګنده ده چي دا دکاتبانو تيروتنه نه ده ځکه ددی نامه ځرک دچينايي ګرځندوی (هيون تسنګ) په (سوناګير) کي هم تر سترګو کيږي چي نوموړي زنداور په خپلو يادانښتونو په (سونا ګير) ليکلی .٦ لکه مخکي چي يادونه وسوه سون= زون د انګليسي د sun د مادی سره نژديوالی لري او دلمر مانا ور ځخه اخيستل کيږي، په انګلوساکسن کي دانوم (sunne) دی چي دجرمني دلمر سره نيژديوالی لري ۷ ، په هندي ژبه کي لمر ته (سورج)، په اوستا کي (هور) په چينائي کي (تی يانګ) په ويغوري= ترکي کي (قوياش) په فرانسوي کي (سولای) په الماني کي (سوني) په روسي کي (سون تسه) په دري پاړسي کي (خور+ شيد) او په پشه ئي ژبه کي ورته (سور) وايي. ۸ چي په زاړه هند اوروپايي کي يي ريښه su-en-sau-eu په نظر راځي چي په سانسکريټ کي هم (surya= سوريا) دلمر په مانا دی چي هو ښيار او پوه سړي ته به يی (سوري) ويل چي دغوري سوريانو په نامه کي يی هم ځرک لګيږي، او (surya سوريا) دلمر الهی ډول ؤ چي رب النوع شمس به يی باله دانوم په ريګويدا او اوستا کي هم زړه ريښه لري او سور دلمر مجسمه دهغه وخت، بت او خدای ؤ. ۹ بل ځای بيا ويل سوي چي په زنداور يعني دزون په ښار کي يو مقدس معبد ؤ او يوه دلمر الهه وه چي چي دی ورته معبد په ملتان کي هم سته او ددی نامه په وياړ کابل شاهانو خپل ځانونه زابل ،زنبيل او رتبيل بلل.

۱۰ چينائي زيارت کوونکي د سونا ګير(زنداور) يادونه دوه واره کړی ده چي يو وار د(٦۳۰م) کال دمی په مياشت کي ،په دا سي حال کي چي دکاپيسا ځخه دهند خوا ته تلی وايي: (( د۷۰ لي = شاوخوا ۲۳ميله دکاپيسا په سهيل کي دالو نو غر د بيرونکو سمڅو اولوړو ځايو درلودونکی سته چي په لومړي ځل اسماني روح o-Lo-noارونا=ARUNA ((سوناګير)) دليري واټن ځخه دلته راغی او وروسته دسونا ګير =SUNAGIR (سو- نا- هيلو) يا او سني زنداور(زميداور) دلوړ غره ځخه د(تسو- کو- چا) مځکي يعني اوسني زابلستان ته ولاړ. ۱۱ دوهم وار دچينايي زيارت کونکي لخوا د زنداور يادول د( ٦٤٤م – په جون= ۲٤ هجري) کي له هند ځخه په بيرته را ګرځيدو کي داسي کاږي : (( د ديوا، روح کاپيسا ته نژدی د اورونا له غره ځخه و تسو – کو- چا =TSU – KU- CHA يعني زابل ته راغی، دسهيل خوا ته دسوناګير= زنداور په غره کي ميشت سو.ا وټول خلک دهغه لما نځنه کوي او هر کال شهزاده ګان، مخور شخصيتونه او عام وګړي پر راټوليږي سره او سپين زر د نورو قيمتي شيانو، اسونو، پسونو او نورو کورنيو ځارويو سره راوړي او وړاندي کوي چي هيڅوک بيا دا شيان پخپله ښه نه سي کولای. ۱۳)) همداسي په تاريخ سيستان کي د ((رون او جول )) دنومونو يادونه هم څو واره سوی ده او ابو خزيمه حمزه بن عبدالله يا بن آزرک يو هلمندی بزګر د(( زاوطهماسب)) له نسله ځخه ددی ځای بولي وايي چي نوموړی يو پياوړی او زړه ور سړی ؤ.(( تاريخ سيستان از آمدن تازيان تا برآمدن دولت صفاريان ۱۹۳ مخ)) ملک شعرابهار دسيستان دتاريخ په لمنليک کي په ناخبرۍ سره ويلي چي ((رون اوجول)) ښه نه دی ځرګند چي دسيستان په کومه برخه کي وه دده په وينا چي د (( چول)) لفظ اوس هم دسيستا ن او خرسان په لهجه پښتو،دري کي ددښت اوبيابان په مانا کاريږي نو داټکل له مخي سړی ويلای سي چي (( رون او جول )) دي د هغه دښت او بيابان له ښوره زارو غاړو او څنډو ځخه وي چي دهلمند (=سيستا ن ، کرمان او بلوچستان) سره مښتي دي . (( دسيستان تاريخ دملک شعرابهار په سمون ۱٥٦مخ)) نو د حمزه د زيږيدني ځای همدا (( رون او جول )) ښايي د بست په ختيځ کي د الرخج (کندهار) ترمنځ وي، (اسکار چيا) ددی ځای دنامه دځرګندولو لپاره ډيري ځيړني او پلټني کړي دي دا ځای د سيستان په تاريخ کي پنځه واره ياد سوی دی، خو اسلامي جغرافيه ليکونکو په هغه وخت کي يوه هم ددی ځای يادونه نه ده کړی د (اسکارچيا)هم په دی اند دی چي ددی کلمی لومړی جز ( ايزد، زون يا دلمر دالهی ) نوم دی او له بل نامه سره عطف سوی دی او ددی رون او جول ځخه يی کيدای سي د زنداورغر ه ته ايشاره وي، نو ليري نه ده چي دا غر دي همدا دلمر لما نځني ( زنداور) غر وي چي په چينايي منا بعو کي د( سونا هيلو او سوناګير) په نامه او په اسلامي منابعو کي د ( جبل الزون) يا اوسني زميداور په نامه راغلی دی.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

(تاریخ سیستان، لیکوال - باسورث ۱۹٤ مخ ) دلته دیادوني وړ ده چي (( طبري)) او (( ابن اثیر)) په خپلو یادونو کي دحمزه دپلار نوم (( اتزک)) یاد کړی دی مگر (( ابن فندق)) آذرک بللی دی ددی دوهم نظر په تا ئید سره چي د (( آذرک)) کلمه ده د دري ویي (( لغات)) له ((آذر)) څخه اخیستل سوی دی چي د (( آتش یا اور)) مانا ښندي نو ددی لیکني سره په تړاو گمان کیږي چي د حمزه پلار په لومړیو وختو کي مسلمان نه ؤ بلکه د زردښتي دین پیرو ؤ او دهمدی (( زون او لمر)) لمانځنه یی کول. ((دباثورت، ل، دسیستان تاریخ همدا مخ )) زما په اند دا به د کاتب تیروتنه وي چي ((زون )) یی په ((رون)) لیکلی دی ځکه په همدی تاریخ سیستان کي ددا ډول تیروتنو بیلگي نوري هم سته لکه په دی عربي بیت کي (( بین یدي حمزه في قله = نصرت في الجبن الدینا مثلا ))، (تاریخ سیستان ۱٥۷مخ) په لومړي نیم بیتي کي د (( قله )) کلمه په اصل کي (( في قبیله یا قبیله ))ده دځای او مو قعیت له مخي سړی ویلای سي چي (( رون اوجول )) به په اصل کي ((جبل الزون )) وي. چي ددی نامه نوري بیلگي به په راتلونکو کرښو کي درته وړاندي سي.
نو راځو خپل مخکني بحث ته چي د زنداور څخه دلمر لمانځني اوهغه ځای مفهوم اخیستل کیږي دا چي دزور او زون (لمر) پرستني سوژه (موضوع) په منځ کي ده نو همدا انگیزه ده چي عربي جغرافیه لیکونکو زور او زون کلمی په صنم (بت) سره مانا کړي دي.

۲ - د ((داور)) جز یی :
پوهاند محمد حسین (( یمین )) په خپل یو ارزښتناک اثر (( افغا نستان تاریخي )) کي لیکي :
د زنداور دکلمی دوهم جز(( داور)) باید ووایو چي په لومړي او دوهم زور د ایزد (( الهی ))، عادل باچا او حکم په مانا دی کیدای سي د د ایزد او مهر (لمر) لپاره ستاینوم وي او همدا ډول ویل کیږي چي د داور اصل ( دادگر) وي او په لنډیز سره داور سوی دی نو دا گڼل کیدای سي چي د داور ویي (لغات ) د ( داد ور) لنډیز دی چي (داد) یی یعني (عدل + ور یی د څښتن ورستاړی دی چي په ټولیزه توگه (عدل اوداد) یا د (عدل څښتن) مانا ورکوي دبیلگي په توگه ( دانش+ ور = بادانش) یا د پوهي د څښتن مانا لري، نو ویلای سو چي زمینداور، زنداور یعني زون یا زور چي دعدل او داد یا د انصاف څښتن وي.
١٤علامه رشاد بابا دری ځایه (دسیمو تاریخي جغرافیه او کندهار یاداښتونواوجغرافیایي یاداښتونه) کتابونو کي لیکي: چي زنداور به په اصل کي زون داور وي چي دا په اصل کي د لمر د الهی نوم ؤ چي په انگلیسي کي هم لمر ته (sun) وایي چي دا به په اغلب گمان اماله پیښه وي، اماله په گرامر(پښویه )کي دی ته وایي چي (ا) په (ت) باندي واړي او (ت) په (ا) باندي او یا (ا) په (ی) او زور په زیر سره ویل هغه کلمه چي په هغه صورت کي (آ) په (ای) واوړي لکه: حجیب، کتیب، او رکیب چي د حجاب، کتاب او رکاب ممال دي.
١٥ نوددی نامه څخه به هم زنداور جوړ سوی وي چي ددی نظر تا ئید د بلاذري فتوح البلدان کتاب هم کوي. سمیز خلک دا ځای زینداور (ZIN DAWAR) بولي او ددی ځای اوسیدونکي زینداوري بولي چي دلته (ZIN) د(ZON) مماله بڼه ده . دا نوم د دوو جزؤ څخه جوړ سوی دی چي SON>ZON>ZAMIN زون، (son= سون) اوس هم لکه مخکي چي یی یادونه وسوه په انگریزي کي ( ١٦) لمر ته وایي او دوهم جز یی داور د (ځای) مانا لري .
علامه حبیبي وایي : سربیره پر زون= سون چي دلمر مانا لري ځیني ځایو نه د پهلوان ،غښتلي اوکروړ په مانا هم راغلی چي په اوستا کي هم (سوره ) د توانا ، غښتلي اوکروړ مانا لري.
.١٧ چي په چینایي ژبه کي ورته qiang zon 强壮 ( چیانگ زون ) وایي.
په ترکي ژبه پهلوان ته ( تگین) وایي چي د مریي په مانا هم راغلی دی د پورتنیو اندونو په څرگندونو کي چي زموږ دهیواد او بهرنیو پیاوړو پوهانو کړي د زنداور= زون داور او زمینداور پر لومړي جز یی تقریبا دټولو نظر یو دی.
د (زون= سون= ژون= سن او سونا - گیر) دیوناني او انگلیسي د( sun = لمر ) په مانا دی ١٨ چي دلمر دالهی مطلب ځیني اخیستل کیږي، او دوهم جز یی دغره اوځای په مانادی.
اروښاد علا مه حبیبي په خپلو یاداښتونو کي تر ډیره د زنداور پر لومړي جز رڼا اچولی ده او دومره وایي چي په تاریخي جغرافیو کي ددی نامه غلطه بڼه چي دکاتبانو تیروتنه بلل کیږي د ( الکامل په ١٨٦٩م دبریل چاپ ) کي د داور او زور دنامه پر ځای په غلطۍ سره ( بلدالداون) لیکلی دی، او بل داون او زوز هم ددی نامه غلط شکلونه دي. ددی نوم دوهم جز د (هیون تسانگ ) دسوناگیر د نامه نوموني دوهم جز ( گیر) دپښتو ژبي د غره په مانا دی چي ددی سیمي په نورو نومونو کښي هم ددی نامه څرک لگیږي لکه غور، غرستاني،غلجی= گرجی= کهزاد- چي دغرني ماناښندي .
یوه بله (رب النوع افتاب = دلمرپرښته) دخیرخانی په کوتل کي دکابل شمال لویدیز په دوولس کیلومترۍ کي کشف سوی چي د لرغون پیژندونکو لخوا د (د سوریامعبد) په نامه چي دلمر الهه نومولی چي ددی نامه بیلگه په نورو تاریخي نومونو کي هم لیدل کیږي لکه دغور سوریان، سوریاخیل، زوراباد چي د تاریخپوهانو په وینا همدا سور اباد دی، اوبل د زور معبد ته ورته بل معبد په ملتان کي هم سته. ١٩نده دا چي د څو پوهانو نظرونه دلته نژدی ټول یو ډول دي لومړی یی د ( داور ) اره بڼه داد گر او داد وربللی دی چي د عدل او انصاف د څښتن په مانا دی که سړی لږ څه متوجه سي د داور، دادگر، داد ور، گیر ټول د ځای مانا ورکوي او د داور د کلیمی د مانا سره سر خوري یاني ( زون = سون = سونا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

= او يا سوريا = سور = زور =چي مراد ځني د لمر الهه وه هغه په همدی داور،غره يا ځای کي وه چي څو پيړۍ وروسته دپښتو ژبي لومړنی غزل بول شاعر (اکبر) په همدی سيمه کي وزيږيدی ..

پاتی بيا


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ